سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۵ / ۰۳ / ۲۲

د فرخنده لپاره د ملي اتلي لقب او د یادګار څلی وړاندیز:

په ۲۱ مې پېړۍ د انټرنیټ، پرمختللي تخنیک او ګلوبالیزم په پیر، دلته د افغانستان په پلازمېنه کابل کې، د حجر د مهال پیریانو او دیوانو، د مذهب او دین خونړیو ټیکدارانو یو بل تاریخي، نړیوال او ابدي شرم وزیږاوه. په دې لامل د دې روستي شرموونکي، انساني ضد او وحشي اقدام د وړ او مناسب غندلو لپاره، وړاندیز کیږي چې فرخنده دې د جهالت او تورتم په وړاندې د مبارزې علمبرداره او ملي اتله و نومول شي.

د دې ترڅنګ دې د فرخندې د اتلولۍ یو څلی جوړ شي او دا څلی دې د شادوشمشیره پرځای کې ودرول شي، څو هرکال د هېواد لونې او ښځې ددې اتلې پرځلي د ګلانو ګېډۍ کېږدي چې هم د فرخندې یاد تل وپالل شي او هم دا څلی د تورتم او جهالت په وړاندې د افغاني ښځو د مبارزې یو یادګار پاتې شي.

هیله ده روښان ضمیره افغانان د دې وړاندیز ننګه او ملاتړ وکړي، څو دا وړاندیز په عمل کې پلی شي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ